مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۴/۰۲/۱۸

# قدرمن احمدګل ریان د

## پاڼ اوپړانګ ترمنځ

د محترم ریان صاحب سره مخامخ پیژندګلوي نه لرم خو کله کله يي په رسنيوکي ليکني لولم. راته ښکاري چي دی په دين، هيواداوعلم مين سړی دی اوپه » نن  ټکی اسيا « کي يوه ليکنه په دي جملو پيل کوي »:ممکن دا ليکل د څه وخت لپاره راته بلا شي او ډير به دي موضوع کي راسره موافق هم نه وي، بلکي بد به وواييي، خو د خدای لپاره يي ليکم او په دي هيله يي ليکم چي هم مو ثواب ګټلی وي او هم نظام، کلتور او ولس ته يوه ګټه ورسوو «. اوورپسي زياتوي چي »:زما لپاره د سوال ځای او د دي ليکني انګيزه د ښځو د مکاتبو او پوهنتونو تر امر ثاني معطلول دي «.احمدګل ريان په دي ليکنه کي په ډيراحتيات ګام په ګام مخ په وړاندی ځي. له يوي خوادي ته ځوريږي چي دهيواد دځوان نسل نيمايي برخه دمنځنيو، ثانوي اولوړوزده کړونه بي برخي پاتي کيږي چي داکاردهيواد دجونو، دهغوی دميندو اوپلرونواوبالاخره دټول هيواددبرخليک سره بي ساری جفا ده، اوله بلي خوا داکاردامیرپه امر ترسره شوی دی اوترسره کيږي، نوکه څوک داميردامرپه خلاف دزده کړوله پاره ښونځي يا پوهنځي ته ځي په حقيقت کي داميرد دحکم نه سرغړونه کوي چي په رښتيا ستره اونه بخښونکي ګناده .په دي توګه ريان صاحب ځان دپاڼ او پړانګ ترمنځ ګيروينې او په دي فکرکي هم دی چي »:ممکين داليکل دڅه وخت له پاره راته بلاشي «.زه دده په دي مشکل يوڅه  پوهيږم، کړاوته يي ځوريږم اوجرأت ته يي حيرانيږم، ځکه دی دخپلي لندي اوله مانا ډکي ليکني په پای کي ليکي چي «.موږ په دي ډول کار کولو )دمنځنيو، ثانوي اولوړوزده کړونه دجونوبي برخي کولونه ( نه يوازي دنيا سره لاس او ګريوان شوي يو، بلکي د خپل امير په بي اطاعتي کي هم واقع يو .دا چي د امير بي اطاعتي کوم اخروي او دنيوي زيانونه لري، ټول پري پوهيږو .بناء تر دی ښه وه چي د شريعت په چوکاټ کي تعليمي ادارو ته اجازه ورکړل شوي وای، تر څو دي برخه کي د کيدونکو اعتراضاتو مخه نيول شوي وای او په ځانګړي ډول غربي نړی ته په لاس ورغلي بهانه هم له منځه تللي وای، کنه نو هم دنياوي ګټه له لاسه وتلي او هم د بي اطاعتي په نتيجه کي د اخرت سوال ځواب ته مخامخ يو «.ريان صاحب دخپل اميرنه ددی غوښتني له پاره دالاندي دلايل وړاندي کوي:

۱ - سره له دي چي داميرله خوا دجونوپرمخ دمنځنيو، ثانوي اولوړوزده کړو دروازي تړل شوي دي، خوبياهم په » کابل کي وينو چي په هره کوڅه کي مکتبونه، خصوصي پوهنتونونه، شهرهای زبانها او اکاډمي وازي دروازي ولاړ دي او سلګونه ښځي پکي ښکته پورته کيږي .زموږ د کور تر څنګ يو انستيټيوټ دی، د سهار له اوو بجو د ماښام تر اوو پوري د هر ساعت په پوره کيدو سره لسګونه ښځي ورځي او ترې وځي .دغه راز د کابل په ټولو کوڅو کي همدا حال دی، خصوصاً د کابل پوهنتون شاوخوا له پخوا لږ کم بيروبار وي »په دي توګه دعلم دزده کړي ډولونه، لارې چارې بدليږي، خومخه يي له سره نه نيول کيږي اوڅوک چي دامير درضا په خلاف دزده کړو په لټه کي وی په حقيقت کي ځانوته دګناهونو درانه اوملا ماتوونکي پيټي جوړوي .

۲ – ريان صاحب داعمل ياني دجونوپرمخ دښوونځيواوپوهنتونودروازي تړل دبهرنيوسره دمقابلي پيل بولي، دتجارت اودهيواد داقتصاد په زيان يي ګڼي اووايي چي اقتصادي اړيکي موپه دي موضوع پوري تړلي دي  .

۳ – زياتوي چي »:ځيني ولسي خلک هم د ملامتی ګوته راته نيسي، د رسنيو بحثونه هم په همدې موضوع تاوده وي «.له دي امله ريان صاحب وړانديزګوي چي که چيري جونو ته په تعليمي موسسوکي دزده کړواجازه ورکړی شي نو دا پورته په ګوته شوي ستونځي به هم حل شي .زه – ددي کرښوليکونکی – دمحترم ريان دادريڅ واړه دلايل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

په ځای بولم اودوړانديز ملاتړيي هم کوم، خودده دهردليل په هکله ځني ملاحظات هم لرم اوهيله مې داده چې داملاحظات به دريان صاحب سره دپاڼ اوپړانګ له منځه په راوتو کې يوڅه مرسته هم وکړي :

١ – په دې عقيده يم چې داسلام پاک دين دنوراومعرفت دين دی چې بشريت ته دکائيناتوخالق له خوادظلمت اوجهالت په ضدرا نازل شوی دی او په هرمسلمان اوهرې مسلماني يې دعلم زده کړه فرض کړې ده .هغه په سلګونه ښځې اوجونه چې پر مخ يې دخپلو تعليمي مؤسسودروازې تړل شوې دي، دزده کړو په نيت نوروتعليمي مؤسسوته ورځي په حقيقت کې دفرض داداکولو په لارکې يوډول قرباني ورکوې او دفرض اداکول کومه ګونا نه بلکې اجراوثواب لري. منم چې ددوی داعمل به داميردامر په وړاندې يوڅه بی پروايي وي، خودهرمسلمان له پاره دخپل خدای اودرسول امرونه تربل هرڅه لومړيتوب لري .هيڅ مسلمان بايد په هيڅ صورت هير نه کړي چې لوی پروردګاردجبرايل ) ع ( په واسطه په لومړنيو کليموکې داسلام پيغمبر ( ع ) ته دا پيغام ورليږلی دی چې:« ولوله دهغه دخدای په نامه چې جها ن يې پيدا کړی دی.» ورپسې لوی ذات په قران کريم کې د » اعلموا « په لفظ ٢٧ ځله خلک دعلم زده کړې ته رابللي دي اوپه ځينو نورو مبارکوآيتونوکې په زده کړو ټينګار شوی دی .نوځکه داسلام پيغمبر ( ص ) دخپل ښتن دارشاداتو په پيروې فرمايلي دي چې »:دعلم زده کړه په هر مسلمان، نراوښځه، فرض دې «.دعلم زده کړه په آيتونواوحديثونو ثبوت شوی فرض دی، هيڅوک اوهيڅ مقام دافرض فسخ کولی نه شي اوهيڅ مسلمان دبل چا دزده کړومخه نيولی نه شي .که څوک غواړي چې په رښتيا « سوچه » مسلمان پاتې شي نوالهي آيتونونبوي حديثونوسره دې دغړې نه وهي اوخپل امردې دخدای اودرسول دامرونونه لوړنه ګڼي .ځني لوړپوړي طالبي شيخان هم ددينې علم زده کړه فرض ګڼي خودعقلي علم زده کړه مباح بولي .داويش له سره ديني سرچينه نه لري بلکې له ګېډې راوتلی دی .حقيقت دادی چې په هيڅ آيت شريف اوهيڅ حديث شريف کې علم په ديني اودنياوي علومونه دی ويشل شوی بلکې د«علم « کليمه په يوڅه ) که ديني وي اوکه دنياوي وي ( دپوهيدو اوحقيقت ته درسيدوپه مانااومفهوم کارول شوی ده .لنډه داچې دعلم زده کړه په هرمسلمان ـ نر اوښځه – دلمونځ اوروژې په شان فرض دی اوپه دې برخه کې جنسي قيداوشرط وجود نه لري .دزده کړو له پاره زماني قيد هم نشته، په دې هکله داسلام پيغمبر( ص ) فرمايلي دي چې » :له مهد) زانګو ( نه تر لحد (قبر) پورې دعلم زده کړه وکړی «.وينو چې داسلام مبين دين مو دعلم زده کړه له ژوند سره تړي اوطالبي شيخان مو په بيلابيلوبهانوله سره تړې بی برخې کوي .دعلم زده کړه په اسلام کې د مکا ني قيد نه هم ازاده ده. حضرت نبي ) ص ( فرما يي چې: « علم زده کړی که په چين کې وي هم.»دا مبارک حديثونه راښيي چې علم په اسلام کې دهرډول قيد اوشرط نه ازاد فرض او يو مطلق ضرورت دی .دا مبارک حديثونه راښيي چې دعلم زده کړه په اسلام کې دهر ډول قيد اوشرط نه ازاد فرض او يو مطلق ضرورت دی .داسلام پيغمبر ( ص ) دحيات په وخت کې چينايان مسلمانان نه وو او په اسلامې تعليماتو هم نه پوهيدل خو دوخت په علومو، کمالونو اولاسي صنايعو کې يې نړيوال شهرت درلود. دا په حقيقت په مسلمان امت دخپل محبوب پيغمبر لورونه وه چې بايد نړيوال علوم، کمالونه اوکسبونه زده کړي. بې بي عايشه، دحضرت ابوبکر( ض ) لوراودحضرت محمد مصطفی ( ص ) بي بي دهمدې اصل په پيروۍ اسلامي امت ته دالارښوونه کوې چې »: دځراغ له رڼا ګټه واخلی اودی ته مه ګوری چې دچا په لاس کې دی.» دا پورته اسلامې سرچينې راښيي چې دعلم زده کړه په دې مبارک دين کې دهرډول جنسي، زماني اومکاني قيداوشرط نه ازاداومطلق ضرورت دی. هيڅوک په هيڅ ډول شرايطوکې ددې ضرورت دعملي کيدومخه نه شي نيولی .

سربيره پردې دعلم زده کړه په اسلام کې بې سارې ديني اودنياوي اجرونه لري. په يوه حديث شريف کې راغلي دي چې:« څوک چې دعلم ( پوهې ) په لورروان وي، الله به ورته دجنت لاره اسانه کړي.» بل حديث وايي چې »: چاچې دعلم لار خپله کړه هغه دجنت لار ونيوه «.يوبل حديث راښيي چې:« دغه درې عملونه دانسان په مړينې سره له منځه نه ځي اودوام پيداکوې :صدقه جاريه، ګټورعلم اونيکمرغه اولاد، چې ترمرګ وروسته ورته دعاوکړي «. داپورتني آيتونه اوحديثونه نه يوازې دعلم دزده کړې ضرورت په ګوته کوي بلکې داهم راښيي چې اسلامي شريعت دزده کړو په وړاندې هيڅ ډول ممانعت، خنډ اوځنډ نه مني. داسې ښکاري چې دجونو دمنځنيو، ثانوي اولوړوزده کړومخالفين داسلام پاک دين کې دعلم په ارزښت چندان خبر نه دي. دا هم ښکاره ده چې بې خبري بی علمي ده اوداسلام پيغمبرمحمد مصطفی ( ص ) فرمايي چې:« بې علمه عمل تباهي ده«، هم ددين اوهم ددنيا تباهي ده اوطالبي شيخانوولس، هيواداوترټولودمخه خپل ځانونه دتباهۍ په لورروان کړي دي. که له دې تبا کوونک عمل نه لاس واخلي نو ډيرڅه به سم شي .

٢ – ريان صاحب، طالبي شيخانو دبهرنيوجونوپرمخ نه، بلکې زموږ، کورنيو،افغاني جونو، زموږدخويندواولورانوپرمخ دزده کړو دروازې تړلي دي او په دې عمل يې په مليونوافغانانوزړونه زخمي کړي دي اوداچې دثاني امراوياداچې ګوندې ولس دجونو دزده کړو سره مخالفت کوي سوچه دروغ دي چې په زخمي شووزړونومالګې هم دوړوي .خلکو ته دروغ ويل، په خلکو دروغ ورتپل او دافغان ولس غوښتنې دبهرنيو فرمايشونه بلل مسلمان ولس ته سپکاوی دی اودملت سپکول داسلامي اخلاقو سره نه جوړيږي .هو، طالبان به له بهرنيوسره نورې لانجې لري چې له امله يې حکومت په رسميت نه پيژني .دبهرسره داړيکو خرابي، اقتصادي اوتجارتي بنديزونه موتجارت اواقتصاد ته زيات زيان رسوې چې په دې ليکنه کې يې مفصلې څيړنې ته ځای نه لرم .داهم نه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پټوم چې دهرڅه پړه هم په طالبانو نه اچوم اوځنې چارې يې دستاينې وړهم بولم .دلته دزده کړوپه برخه کې طالبانودبهرسره نه بلکې خپل ولس اوخپل هيواد سره ناروامقابله پيل کړې ده .دعلم سره دښمني په حقيقت کې زموږ دهيواداواوهيوادوالوځواک اوبه کوي اودهربهرني دښمن په وړاندې يې کمزوری کوي اوپه دې ډول دخپل هيواد او ولس سره جفا اودبهرنيو خدمت کوي. هلته زموږ په ګاونډي هيواد ايران کې هم دطالبانو په شان سرتنبه شيعه ملايان حکومت کوي، خوايراني ملايان دافغاني طالبانو په خلاف دخپلو ملي ګټو دساتنې له پاره دمعاصرساينس اوتکنالوژۍ په ارزښت پوهيږي اوځوان نسل ) ښځينه اونارينه ( په سنبالوي.څو ورځې وړاندې مې په يوه الماني رسينۍ کې ولوستل چې ايرن نن سبا دوګړو دشميرپه تناسب داينجنرانو دشميرله مخې په نړۍ کې دروسيې نه وروسته دامريکاسره برابردريم مقام لري چې ۷۰سلنه ) دوضاحت له پاره يې په حروفو هم ليکم ( اويا سلنه يې ښځينه اينجنراني دي .ايرانيانوپه عراق دامريکا دوه نظامي بريدونه تر کلکې څيړنې اوکره کتنې لاندې ونيول اوپوه شول چې په عراق دامريکا دنظامي برۍ بنستيزلامل دامريکې هوايې ځواک و، نو ځکه يې دخپلو ښځينه اونارينه اينجينرانو په مټ دهوايي دفاع، بې چلوونکو الوتکو اوراکټونو په برخه کې مستقلې څيړنې پيل کړې اوپه پايله کې يې د دکلکونړيوالواقتصادي بنديزونوسره سره دهوايي دفاع داسې سسټم جوړکړ چې دټولو امريکا پلوه اروپايي هيوادونودهوايي دفاع دسسټمونو پرتله زيات قدرت اوظرفيت لري او دامريکا هوايې ځواک اوس دايران هوايي حرم ته دورننوتوزړه نه شي ښه کولی .هغه څه چې ايراني نارينه اوښځينه ځوانان يې زده کولی اوکارولی شي افغانان يې هم ترسره کولی شی اود هيواددفاعي بنسټونه په خپلوعلمي اوتخنيکي مهارتونواوقابليتونوځواکمن اوپيا وړي کولی شي .دمعاصرعلم اوتکنالوژۍ لاس ته راوړنې يوازې په نظامي کارونې نه محدودم اوغواړم ښکاره کړم چې دعلم او تکنالوژۍ زده کړه مود ژوند په بيلابيلو برخو،لکه روغتيا، کرنه، تجارت، صنعت، کلتوراونوروکې دکارځواک پياوړی کوي او خپل هيواد اوهيوادوالوسره دمرستې اوهغوی ته دخيررسولو وس راکوي اوداسلام پيغمبر حضرت محمد مصطفی ( ص ) فرمايي چې »: ترايمان وروسته ترټولولويه ښيګڼه دالله مخلوق ته اسانتياوې برابرول دي «. دطالبي شيخانوروان تعليمي سياست دافغان ولس په ژوند کې اسانتياوې نه رامنځ کوي، دکړاوونوسره يې مخامخ کوي، ځکه چې ددينې فرض اودبشري ژوند ترټولو سترنعمت ياني دعلم اومعرفت څخه يې بې برخې کوي .په دې ډول طالبي شيخان هم دځان اوهم دولس ددينې اودنياوي برخليک سره بې مسؤليته اوبې باکه لوبې کوي .

۳ – ريان صاحب ليکي چې:« ځنې ولسي خلک هم دملامتۍ ګوته راته نيسي، درسنيو بحثونه هم به دي موضوع تاوده دي.» رښتيا داده چې دا ځنې ولسي خلک نه دي چې دتعليمي سياست په برخه کې دملامتې ګوته درته نيسي بلکې د ځينو طالبان اوټولوديني عالمانو په ګډون دا ټول افغان ولس دی چې دا سياست ظلمت اوبربريت بولي او ورسره کلک مخالفت کوي .په اروپاکې ستاسې هغه پلويان چې ستاسې په پلوې دامريکايي اشغال اودهغه لاس پوڅولوتمارانوپه ضديې شل کاله ليکنې کړي دي، اوس ستاسې دتعليمي سياست له امله درڅخه بيزارشوي اوجلا شوي دي .دعلم اوتمدن ضد مبارزه کې دطالبي شيخانو وتلی شيخ، دلوړوزده کړو وزير، شيخ نديم، خو دعلم اومعارف له پاره دافغان ولس مبارزه دبهرنيوفرمايش بولي اولوړه کوي »:چې د لوړو زده کړو په برخه کې د بهرنيانوفرمايښ نه مني «.که چيرې دشيخ نديم په شان شيخانوعقلي اوشعوري بی وسي اودپوهې اومعرفت په وړاندې دهغه عقدې په نظرکې ونيسي، نو ددې ارزښت نه لري چې په ليکنه کې يې نوم ياد شي، خونن سبا زموږ په هيواد کې دعلم دزده کړې برخليک دهمدې ډول شيخانوپه لاس کې دی، نوځکه مجبوريوورته ووايو چې هو !غيرله څوطالبي شيخانو، دالقا عدې اواسلامي دولت له پيروانانو، نورټول اسلامې اوغيراسلامي بشريت ستاسې دتعليمي سياست مخالفت کوي، خوترټولو دمخه افغان ولس ځان ددې مخالفت مستحق اوځان په دې مخالفت مکلف بولي اودا ځکه چې :

الف - شيخانوافغاني جونه اوميرمنې دزده کړو اوکارڅخه منع کړي دي .داموږافغانان – ښځې او نارينه – يوچې ددې سياست سره ، څرګند اوغوڅ مخالفت کوو .

ب – دافغان ولس له پاره دعلم زده کړه په هر مسلمان په آيتونواوحديثونوثبوت شوی فرض اودامسلمان ولس له فرضوتيريدلی نه شي .

ج – افغان ولس په دې پوه شوی دی چې علم، علمي، فني اوتخنيکي مهارتونه اوقابليتونه دهوسا اوبسيا ژوند په ټاکونکولاملونوبدل شوي دي چې بی له هغوی په اوسنۍ بې وسۍ، ستونځو، فقراوغريبۍ برلاسی ترلاسه کيدلی نه شي .نوځکه ټول په يوه خوله اوپه کلکه دشيخانو داروان تعليمي سياست غندواوپه ضديې سوله ايزه مبارزه خپل دينی اوملي فرض ګڼو .څه موده وړاندې مې په رسنيوکې ولوستل چې دهيواد له ۳۴ ولايتونوڅخه قومي مشران اودينی عالمان په دې موضوع باندې دامارت مشرانوسره دبحث له پاره کابل ته راغلي ووترڅو دموضوع دحل له پاره يوه لارپيداکړي .دخبروله لارې دموضوع دحل له پاره هڅې په حقيقت کې دهيواد ددينې عالمانواوقومي مشرانودين دوستي، هيوادپالنه اوسياسي درايت ښيي اوداهم په ګوته کوي چې افغان ولس ددې مشروع غوښتنوڅخه نه تيرږي اوخپلو هلوځلو ته دوام ورکوي.دهيواد دراتلونکې له پاره ترټولوخطرناک ټکی دادی چې په طالبانوکې دنيدامحمد نديم اوخالد حنفي په شان شيخان چې په سرکې يې دعقل اوپه زړه کې يې درحم نښې اونښانې له سره نه ليدل کيږي دسياسي درايت نه هم بې برخې دي اوهرډول مشروع اورغنده نيوکه دنظام تخريب بولي، دهغه چاکارېې ګڼي « چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بغات ګڼل کیږي اوواجب القتل دي «.په دې ډول دافغان ولس اوطالبي شیخانوترمنځ فاصله رامنځ ته کیږي، دوخت په بهیرکې اوږدیږي او ددې ډارشته چې خطرناک پړاوته به ورسیږي .په دې ډول دطالبانو په منځ کې داځني شیخان ددوی نظام دتخریب اساسي عا ملان دي .نوځکه ترهرڅه دمخه په طالبانو پورې اړه لري چې خپل نظام تخریبوي اوکه نه دولس مشروعوغوښتنو ته غوږنیسي اوله دې لارې داانظام اصلاح او ځواکمن کوي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ